# دَحقیقت کلام

## دُنیا اَو تهول شیزونه په څه شان په وجود کښ راغلل ؟

په ابتدا کښ الله آسمانونه او زمکه پیدا کړل ۰ دَ یهوه له کلام نه آسمانونه جوړ شول ۰ ځکه هَغه چه دَهٔ وُویل وشول ۰ اَو هَغه چه دَه وفرمایل نو ودَریدل ۰ دَ ایمان په معرفت پوهیږو چه هر زمانه دَ خدای دَ کلام په وسیلے جوړه شوه یعنی څه چه وینو هغه له ښکاره شیزونونه دی پَیدا شوی ۰

پیدایښ ۱/۱ - زبُور ۳۳/۶و۹ - عبرانیانو ۱۱/۳

## نور سپوږمۍ ستوری دَ خدای په باب کښ څه ظاهروی؟

آسمانونه جلال دَ اَلله بیانوی او فضا عمل دَ لاسونو دَدهٔ ښکاره کوی یوه ورځ دَبلی ورځ سرهٔ خبری کوی اَو یوه شپه دَبلی شپی ته علم ورښیئ ۰

خدای چه دُنیا اَو دَهغے تهول شیزونه پیدا کړل او چه دَ آسمان او دَزمکے مالک دے هغه دلاس په جوړ شوو کورونو کښ نه اُوسی ۰

زبُور ۱۹/۱و۲ - اعمَال ۱۷/۲۴

## ځمونږ خالق خدای مونږ ته هر ورځ څه راکوی ؟

ربّ الحیئ ته را وګرزئ چه آسمان زمکه دریابونه اَو

هرڅه چه په کښ دی پیدا کړل ○ خوبیائے هم دَ خپل
ځان په حق کښ شاهدی بنده نه کړله ولے چه بنه ئے
کاوۀ یعنی له آسمان نه ئے ستاسو دَ پاره باران وروۀ او
دَ لویو نعمتو نو موسمونه ئے دَرکړل اَو ستاسو زړونه ئے
په خوراک اَو په بنادی ماړه کړل ○ مګر پخپله تهولو له
ژوندون اَو ساه اَو هرڅه ورکوی ○ خدای چه هر
څه مونږ له په پریوالی سره دَ خوند دَ پاره راکوی ○

اعمال ۱۴/۱۵و۱۷ - ۱۷/۲۵ آتیمهیس ۶/۱۷

## خدای مونږ ته هروقت څه را کوی ؟

اَو دَ هغه خدای چه ستادم لئے په لاس کښ دے
چه ځان ځمونږ په ژوند کښ لری هغه چه دَدۀ په
لاس کښ دَ هریو ژوندی ځان دَي - ولی چه ځمونږ
ژوندون او حرکت اَو شته والے په هغه کښ دی ○

دانی ایل ۵/۲۳ - زبُور ۶۶/۹ - ایوب ۱۲/۱۰ - اعمال ۱۷/۲۸

## په شروع کښ خدای انسان څنګه جوړکړلۀ او کوم ځائے کیښنود ؟

نو دَ الله انسان په خپل صُورت پَیدا کړ دَ الله په صورت

ئي نراوبنځه لي پيدا کړل ٥ الله انسان لره سم جوړکړه ۰ اَو
خداوند الله په عدن کښ نمرخاتهٔ ته يو باغ نهال کړ اَو
هغه سړی چه ئې جوړکړی وُو هلته ئې وساته اَو له
زمکے نه هره و نه چه خايسته بنکاريدل له اوپه خوراک
کښ ښه وه خداوند الله و تهوکوله او دَباغ په مينځ
کښ ئي هم دَ ژوندانه و نه او دَ ينکو او دَ بدو
دَ پيژندلو و نه ٥ اَو دَ باغ دَ او ړکولو دَ پاره له عدن
نه يو سيند وُوت ٥

پيدايش ۱/۲۷ و ۲۸ - واعظ ۷/۲۹ - پيدايش ۲/۸ و ۱۰

آدم لره دَ دے باغ دَ مالک او خالق له طرف نه څنګه
آزادی موندلی شوه او دَ کُمے خبرے نه ممانعت وهٔ ؟

او خداوند الله سړی ته حکم وکړوئي ويل چه ته دَ
باغ دَ هری و نے ته خوره مګر دَ ښو اَو دَ بدو دَ پيژندو
له و نے نه مه خوره ځکه چه کومه و رځ چه له
هغی نه و خوری نو خواه مخواه به مړشی ٥

پيدايش ۲/۱۶ و ۱۷

آدم اَو حوّا دَ هغے و نے ميوه پريښودَ له او نورتهول

## میوه په خوشحالئ سره وخوړله اودا اسے دَخدای په رفاقت کښ پائی شوځه ؟

مار بی بی حوّا په خپل چل بازئ وغلوله ۰ نو ښځے و لیدهٔ چه ونه خوراک له ښه دَه اوسترګوله خوشحالی دَه اَو دَ پوهی بخښلو دَ پاره غوره دَه نو دَهغ له میوے نه ئ واخسته اَو وےخوړله او خپل سړی لهٔ ے هم چه ور سره وهٔ ورکړله نوٙ هغه وَ خوړ له ۰

کرنتهیانو ۱۱/۳ - پیدایش ۳/۶

## بابا آدم اَو مور حوّ ہاند ِ له دے نا فرمانئ نه څه اثر وشو؟

او لکه چه دیَوسړی دَ نا فرمانئ په سبب ډیر مخلوق ګنهګار کړےشو ۰ څکه لکه چه دَیوسړی په وسیلے ګناه په دنیا کښ راغله اَو دَګناه په وسیلے مرګ - دَ غسے مرګ په ټولو انسان قبضه وکړله ولی چه ټولو ګناه وکړله ۰

رومیانو ۵/۱۲ و ۱۹

## ټول خلق په طبعي طور او دَ کارونو په سبب دَ خدای په مخکښ ګنهګاران پاتې شوځه ؟

مونږ ټول دَ ګډورو په شان ورک شولو هر یو خپلې لارې ته متوجّه شۀ * یهوه له آسمانونه په بنی آدم باندِ نظر وکړ چه ووینی چه څوک دي چه پوهیده چه دَ الله ټونکی شته هغوی ټول یَو خوانته شول - او ټوُ فساد شول هیڅوک نیکی کونکے نشته یو هم نشته * هیڅ فرق نشته څکه چه ټولو ګناه وکړله اَو دَ خدای له لوئے نه پاتې شو ○

یسعیاه ۵۳/۶ - زبور ۱۴/۲و۳ - رومیانو ۳/۲۲و۲۳

## ګناه څه دي ؟ بائبل مقدّس دَ دے په باب کښ څه بنئي ؟

ټوله ناحقی ګناه وه * اَو ګناه هم بے شرع کار دَ ے *
اَو چتوالی دَ سترګو اَو پړسول دَ زړۀ خطاده *
څکه څوک چه په بنه کولو پوهیږی او هغه نه کوی و هغه دَ پاره ګناه ده * خو ګناه دَ مرګ لښه ده *

آکرنتهیانو ۱۵/۵۶ - ایوحنا ۵/۱۷ و ۳/۴ امثال ۲۱/۴ و ۲۴/۹ رومیانو ۱۴/۲۳ یعقوب ۴/۱۷

## څه مونږ خپل ګناهونه خدای نه پټولی شو ؟

اَ. دَ هغۀ په مخکښ هیڅ مخلوق پټ نه دَ ے مګر چه څاسره

څومره کار دَے دَ هغهٔ په نظر کښې هر څه بربنډ او ښکاره دے ؛ ولې چه خداوند دَ سړی په شان ليدل نکوي سړے ظاهر صورت ته ګوری ليکن خداوند زړه ته ګوری ؛

عبرانيانو ۱۳/۴ - اسموئيل ۷/۱۶

## دَ ګناه انجام به څه وی ؛

بلکه ستاسو بديو ستاسو او ستاسو دَ الله په مينځ کښې فاصله کړی ده اَو ستاسو خطاؤ دَ هغه مخ درنه پټ کړی دي ؛ دَ ګناه تنخواه مرګ دَے ؛

يسعياه ۲/۵۹ - روميانو ۲۳/۶

## هر کله چه مونږ ګناه کوو نو څومونږ حال څه وی ؛

څوک چه ګناه کوی هغه دَ ګناه غلام دَے ؛ ولې تاسو په دے نه پوهيږئ څه ؛ چا ته چه تاسو خپل ځان دَ فرمان بردارئ په نيّت وړاندِ کوئ هم دَ هغهٔ غلامان يئ دَ کوم چه تاسو فرمانبرداری کوئ - يا دَ ګناه غلامان يئ دَ مرګ دَ پاره يا دَ فرمانبرداری دَ صداقت دَ پاره ؛

يوحنّا ۳۴/۸ - روميانو ۱۶/۶

## انسان ته دَ ګناه دَ اثر په باب کښ عیسیٰ مسیح څنګه تعلیم ورکوی؟

مګر وئے ویل څه چه له انسان نه وزي هم هغه دي چه انسان پرِ پلیتیبږی وے چه له دَننه نه یعنے دَ انسان له زړه نه بد خیالات را وزي حرامکاری غلا کانے خونونه زناکاری۔ حرص۔ بدئ۔ ټګی۔ بے شرمی بد نظر۔ کفر۔ مغرورتیا، او بے وقوفی ○ دَا ټول بدکارونه۔ له دَننه نه وزی او بنی آدم په دے پلیتیبږی ؛ مرقس ۷/ ۲۰و۲۳

## دَ خدای کلام دَاسے بدکارانو ته څنګه تنبیه ورکوی؟

یا خبر نه یئ څه؛ چه بے انصافان به دَ خدای دَ بادشاهت وارثان نه شی حرامکاران نه بت پرست نه زناکاران نه ...سا تلے شوی هلکان نه بچه بازان نه غلهٔ نه حرصناک نه شرابیان نه بدرد وایونکی اَو نه ظالمان به دَ خدائ دَ بادشاهت وارثان شی ○ او په هغه کښ به هیڅ دَاسے څیزونه نه شی خو ویریدونکی۔ بے ایمان۔ پلیتان۔ خونیان۔ حرامکاران۔ جادوګران بت پرستان او ټول دروغژن به په هغه دریاب کښ حصه دار شی چه په اور او په ګوګړو ولبلیږی ؛ اکرنتهیانو ۶/ ۱و۹۔ مکاشفه ۲۱/ ۸و۲۷

## مرګ نه پس به څه وي ؟

اَولکه چه دَ هر انسان دَ پاره مرګ یوځل شته دے اَو له مرګ نه پس قیامت ٭ وے چه دَ خدائ غضب له آسمان نه دَ هغه خلقو په ټولے بے دینئ او بے انصافئ ظاهریږی ٭ ځکه چه الله به هریو کار عدالت ته راوړی له هریو پټ څیز سره که بنه وی که بد ٭ ځکه چه هغه یوه ورځ قایمه کړی ده چه په هغې کښ به دعالم عدالت په صداقت سره دَ هغه سړی په وسیلے وکړی ٭اَو دَ عیسیٰ مسیح په وسیلے دَ انسان په پټو خبرو عدالت وکړی ٥

عبرانیانو ۹/۲۷، رومیانو ۱/۱۸، واعظ ۱۲/۱۴، اعمال ۱۷/۳۱، رومیانو ۲/۱۶

## په هغې ورځ په هریو به څه کارضروری وی ؟

نوځکه هرڅوک به په مونږ کښ دَ خپل ځان دَ پاره خدائ له جواب ورکوی ٭ هرفضول لفظ چه بنی آدم وايي دَ عدالت په ورځ به هغه دَ هغهٔ حساب ورکوی ٥

رومیانو ۱۴/۱۲، متی ۱۲/۳۶

# هغوی بدکاران چه په رښتیا توبه و باسی آخری حال ئی به څنګه وی ؟

اُو چه ګناه پوره شی نو مرګ پیدا کوی ؛ اَو مامړی ولیدل لوی اَو واړه چه دَ تخت په مخکښ ولاړ وُو کتابونه پرنستلی شو خوبل کتاب هم پرنستلی شهٔ چه دَ ژوندون کتاب دَے اَو دَمړو عدالت دَ هغه خبرو په حق کښ و شهٔ چه په کتابونو کښ لیکلی وے یعنی دَ هغوی دَ کار نو په مطابق ○

او سمندر خپل مړی چه په کښ وو ورکړل او په مرګ اَو په عالمِ ارواح کښ چه څه مړی وو هغوی ورکړی شو او تر نه دَ هریو سړی عدالت دَ هغهٔ دَ کارونو په مطابق و شهٔ ○ او مرګ او عالمِ ارواح دَ اور دریاب ته وغورزولے شو۔ دا دوئم مرګ دے یعنے دَ اور دریاب ○ اوکه څوک دَ ژوندون په کتاب کښ لیکلی و نهٔ موندلے شهٔ نو هغه دَ اور دریاب ته ګذار کړے شهٔ ؛ دوی به دَ تل عذاب ته لاړ شی ○

یعقوب ۱/۱۵ ، مکاشفه ۲۰/۱۳و۱۵ ، متی ۵/۲۹

مونږ ته چه په دے خطرناک حالت کښ یو خدائ خپل فضل سره څه راکړی دي چه مونږ دګناه دغلامئ نه اودرا تلونکی غضب نه بچ شو؟ خلاصونکے پیدا شۀ چه مالک عیسی مسیح دے ۰

هغه څوک چه خپل ځان ئے ځمونږ دپاره ورکړ- چه مونږ له ټولو بے شرع کارونونه را خلاص کړی لوقا ۲/۱۱، طیطس ۲/۱۴ عبرانیانو ۷/۲۵

## دا نجات ورکونکے عیسیٰ مسیح څوک دے؟

اَو دَ هغهٔ نوم کلمة الله دے ۰ په ازل کښ کلام وه اَو کلام خدائي ته وهٔ او کلام خدائي وه ۰ او کلام جسه شهٔ او له فضل او له حقیقت نه معمور ځمونږ په مینځ کښ او سیدۀ- چغه په جسم کښ ښکاره شهٔ اَو په روح کښ صادق کړے شهٔ ۰ چغوی به دَ هغه نوم عمانوایل بږدی چه معنیٰ ئے داده چه خدائ مونږ سره ۰ اَو دَ خدائ زوے به او بللے شی ۰ شهنشاه او رب الارباب ۰

مکاشفه ۵/۱۳، یوحنا ۱/۱۴، ۱ تیمیتهس ۳/۱۶، متی ۱/۲۳، ۱/۲۵، مکاشفه ۱۹/۱۶

## دَخدائ زوے دے دُنیاته ولے راغے ؟

یقینی خبره ده اَو په پوره طوردَ قبولو لایقه ده چه

میسح عیسیٰ دَ دَے دَ پاره دُنیا ته راغ چه ګنهګاران بچ کړی ، وے چه خدائي خپل زوے دنیا ته نهٔ دے لیږلے چه دنیا مجرم کړی مګرچه دنیا دَ هغهٔ په وسیلے خلاصون ومومی ○

تیمتهُس ۱/۱۵ ، یوحنا ۳/۱۷

## دَخدائ زوي عیسیٰ مسِیح څه وکړل چه مونږ ته خلاصون ملاوُ شی ؟

میسح هم تاسو سره مینه وُکړله او څمونږ دَ خاطرَ ئےخپل ځان خدائ ته دَخوشبوئ په شان په طور دَ نذراو دَ قربانۍ په حواله کړ ، دَ دَے دَ پاره بنکاره کړے شهٔ چه دَخپل ځان په قربان کونو ګناه رد کړی ، میسح هم یعنے صادق دَ بے انصافو دَ خاطرَ دَګناهونو په بابت یوځل مړشهٔ چه مونږ خدائ ته را نزدے کړی ، میسح څمونږله خاطرمړشهٔ

اِفِسیانو ۵/۲ ا عبرانیانو ۹/۲۶-۱ ، الپطرس ۳/۱۸ رومسیانو ۵/۸-

## مونږدَدےلوی خبرےنه چه میسح څمونږ دَ خلاصون دَپاره مړشهٔ دَخدائ دَګنهګارانوسره دَسلوک په بابت کښ څه زده کوو ؟

او په دے دَ خدائ مینه مونږ ته بنکاره شوه چه خدائ

خپل يواځې پَيدا شوے زوے د نيا ته را وليږهٔ چه دَ هغهٔ
په وسيلے ژوندون ولرو ـ په دے کښ مينه شته ـ نه چه موږ
له خدائ سره مينه وکړه مگر چه هغهٔ موږ سره وکړله
او خپل زوے ئے ځکه را وليږهٔ ○

ولے چه خدائ دے دنيا سره داسے مينه وکړلهَ
چه هغهٔ خپل يواځې پيدا شوے زوے ئے ورکړ چه هر
څوک چه پرِ ايمان راوړی هلاک نه شی مگر دَتل ژوندون
ولری ٭ ايوُحنا $\frac{4}{10, 9}$ ، يوُحنا $\frac{3}{16}$

## اوُس خُدائ هر يو ته کوم ضرورى حکم ورکوی؟

مگر اوس په هر ځائ کښ ټولو بنی آدمو له حکم ورکوی
چه توبه کوئ ٭ نو ځکه توبه وکړئ او را وگرزئ چه ستاسو
گناهو نه لری شی ○ ولے چه هغه دانه غواړی چه څوک
هلاک شی مگر چه ټول توبے ته ورسيږی ○

اعمال $\frac{17}{30}$ و $\frac{3}{19}$ ، ۲ پطرس $\frac{3}{9}$

## هغه کوم يو شرط دَے چه دَ هغی نه گنهگار دَ گناه نه او دَ الله تعالی دَ غضب نه بچ کيدے شی؟

عيسی باندِ ايمان راوړه او ته او ستا کور به خلاصون

ومومی • هرڅوک چه په هغهٔ ایمان راوړی دَ هغهٔ په نامه بهٔ دَ
ګناهونو معافی بیا مومی • ولی چه په فضل سره او دَ ایمان په
وسیلے تا سو خلاصون و موند اَو دَاآ سوله ځانَ ونهٔ موند
هغه دَ خدای بخښنه ده ○ هغه د عملو نو کار نهٔ دے
چه هیڅوک فخرونه کړی ○ څوک چه په زوی ایمان راوړی
هغه دَ تل ژوندون لری مګر څوک چه دَ زوی
قایل نه دے ژوندون به نه وینی لیکن د خدائی غضب
پرِ پاتے دے○

اعمال ۱۶/۳۱ و ۱۰/۴۳ ، افسیانو ۲/۸ و ۹ ، یوحنا ۳/۳۶

## بے له مالک عیسیٰ مسیح نه بل چانه خلاصون موندے شی؟

ځکه چه یَو خدائی دے څوبز مالک او خلاصونکے عیسیٰ مسیح •
او دَ بل هیچا په وسیلے خلاصون نشته وے چه دَ آسمان
دَ لاندِ څه بل نوم دَ انسان په مینځ کښ ورنهٔ کړے شهٔ چه
پرِ خلاصون ومومو ○

افسیانو ۴/۵ ، ۲پطرس ۳/۱۸ ، اعمال ۴/۱۲

## خدای مونږ ته کتاب مقدس ولے بخښلے دے؟

(۱) چه تا سو ایمان راوړئ چه عیسیٰ هم مسیح دے دَ

خدائی زوے او چه ایمان راوړی نو دَهغهٔ په سنامه
ژوندون ولرئ ؛

(۲) چه کوم تعلیم تا کړے دے دَهغهٔ د خبرو حقیقت
در ته معلوم شی ؛

(۳) چه ځمونږ خوشحالی پوره شی ۰ یوحنا ۲۰/۳۱ ، لوقا ۱/۴ ، ایوحنا ۱/۴

## پاک نوشتے څه کولے شی ؟

کتاب مقدس چه دَخلاصون دَ پاره حکمت ور کولے
په شی یعنی هغه خلاصون چه دَ ایمان په وسیلے په
مسیح عیسیٰ کښ دے ۰ او هغه کلام په حلیمیٔ سره
قبول کړئ چه ستاسو په زړونو کښ لګیدلے دے او
چه روحونه مونځ کوے شی ۰ اوس مالک ته او د هغه
دَ فضل کلام ته تاسو سپارم چه تاسو قایمولے شی او په
ټولو پاک شوو کښ میراث ورکولے شی ۰

۲ تیمتهس ۳/۱۵ ، یعقوب ۱/۲۱ ، اعمال ۲۰/۳۲

## عیسیٰ مسیح هغری ته چه ایمان سره کلام آوری څنګه پُرجلال خبرے والی ؟

رشتیا رشتیا تاسو ته وییم څوک چه ځما کلام اوری او

په ځغهٔ بانډِ ایمان راوړی چه زه ئے راواستولم ځغه دَ تل ژوندون لری او عدالت ته نه راځی بلکے له مرګ نه وتلے دے او په ژوندون کښ داخل شوے دے ٥

یوحنا ۵/۲۴

## عیسیٰ مسیح ځغوی ته چه د ځغهٔ کلام نهٔ قبلوی څنګه نصیحت ورکوی؛

څوک چه ما رد کوی اَو څما خبرے نهٔ قبلوی دَ ځغهٔ منصف شته یعنی ځغه کلام چه ماکړے دے ځغه به په آخره ورځ دَ ځغهٔ عدالت وکړی ٥

یوحنا ۱۲/۴۸

## خدائی دَ کلام اوریدونکونه څه غواړی؛

خو په کلام بانډِ عمل کونکی شئ او نه فقط اوریدونکی ؛ هر یو کس چه ما ته مالک مالک وائی به دَ آسمان په بادشاهت کښ داخلۂ شی مګر ځغه څوک چه څما دَ آسمانی پلار په رضا عمل کوی ٥

یعقوب ۱/۲۲ ، متی ۷/۲۱

# دعیسیٰ مسیح کلام او ریدونکی اومنونکی به دَچا په شان دی ؟

پس هرڅوک چه ځما دا خبرے اوری او عمل پرِ نه کوی هغه به دَ هغهٔ کم عقل سړی په شان وګڼړلے شی چه خپل کوړئے په شګو جوړ کړ ه

باران ؤورید سیلابونه راغلل بادونه والوتل او په هغه کورو لګیدل او هغه ونړید او بالکل بر بادشهٔ ه

متی ۷ / ۲۴ و ۲۵

اوچه کلام اوری اونه منی هغه دچا پهٔ شان دے؟

او هر څوک چه ځما دا خبرے اوری او عمل پرِ نه کوی هغه به دَ هغه کم عقل سړی په شان وګڼړے شی چه خپل کوائے په شګو جوړ کړه

باران ؤورید سیلابونه راغلل بادونه والوتل او په هغه کورو لګیدل او هغه ونړید او بالکل بربادشهٔ

متی ۷ / ۲[illegible]

## ایمان څنګه پیدا کیږی او زیاتیږی ؟

ایمان دَ خبرو په اوریدلو پیدا کیږی او خبرے دَ مسیح له کلام نه راځی ○ څکه خبردار شئ چه څنګه اورئ ؛ که نن تا سو دَ هغهٔ اواز واوریدٔ نو خپل زړونه مه سختوئ

روميانو ۱۰/۱۷ ، لوقا ۸/۱۸ عبرانيانو ۳/۱۵

## مونږ دَ خپل مالِک او خلاصونکی په فضل او پیژند ګلئ کښ ترقی به څنګه کوو ؟

او دَ نوی پیدا شوُ ما شومانو په شان دِ ستاسو زړه واجبو پیؤ نه شی چه په کښ نګی نشته دَ وے دَ پاره چه پرِ خلاصون ته لوی شئ ○ مګر اے محبوبانو په خپل پاک ایمان خپل ځانونه قایم کړئ ؛ دَ خداوند کلام واوره ؛ دَ انسان دَ کلام په طور مو قبول نه کړ مګر دَ خدائ دَ کلام په شان او په رښتیا سره هم دے او تا سو چه ایمان راوړئ په تا سو کښ هم اثر کوی ؛ مګر چه په مینے سره په حقیقت ټینګ شو چه په هرے خبرے دَ هغهٔ تر قدَ پورے لوے شو چه سر دے یعنی مسیح ○

۱ پطرس ۲/۲ ، یهوده ۲۰ ، یرمیاه ۲۲/۲۹ ۱ تهسلنیکیانو ۲/۱۳ افسیانو ۴/۱۵،۱۴

## مونږ خپل چال چلن څنګه صاف وساتو؟

ای خدایا ته مبارک ئی * ځوان به څرنګه خپلی لاری پاکی
کړی؛ ستا دَ کلام په موافق سره په ځالئ له راوړونه
ستا کلام حقیقت دے * ستا کلام ځهادَ قدَ مونو دَ پاره
دِ یوه دیَ او ځهادَ لاری ... یَ * ماستا وعده په خپل
زړه کښ پټه ییښیَ ده څسی نه چه ستا
خطا وکړم * زبور ۱۱۹/۹و۲، یوحنا ۱۷/۱۷، زبور ۱۱۹/۱۰۵ و۱۱

## دَ خدائ کلام په خان دانی ژوندون په څه شان په عمل کښ راوستل پکار دی؟

او داخبرے چه ئی زړه ښ تا ته حکم کوم ستا په زړهٔ
کښ دِ وی * او ته په کوشش سره خپلو ځامنو
ته ئی وښیه په څغه وقت چه ستارپه‌کور کښ کښینی
او په څغه وقت چه ځی په لاری او په ملاستی او په
پاسیدلو کښ دَ دوی قصے کوه * او خپلو ځامنو
ته وښیه دَ دَی دَ پاره چه راتلونکی زمانه موهغه
څه من چه پیدا شی زده ئي کړی چه پورته شی او

خپل اولاد ته ئې بیان کړی ۰ تا چه هغوی په خدایَ باندی اُمیدو کړی اَو دَ خدائی کارونه هیرنهٔ کړی بلکه دَ رهٔ ځکمونه وساتی ۰ استثنا ۶ب۶ ۱۹، زبور ۷۸ ۶-۷

## دَخدائ پلاراو دَعیسیٰ مسیح دَشاگردانو په میَنځ کښ څه رنګ رشته ده؟

مونږ خدائی سره ـ دَ هغهٔ دَ زوی دَ مرګ په وسیلے هغه وقت پخلا شو لو ۰ مګر اوس په مسیح عیسیٰ کښ تا سو چه ورمبے لری وئ دَ مسیح په وینه کښ نزدے شوی ئې ۰ دَ هغهٔ ایمان په وسیلے چه په مسیح عیسیٰ راوړئ تا سو ټول دَ خدائی زامن یئ ۰ خدائے دے دنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یوا ځې پیدا شوے زوے یئ ورکړو مګر هر څو مره خلقو چه قبول کړ هغوی ته ئې داحق ونخښلهٔ چه د خدائ فرزندان شی یعنی هغوی چه دَ هغه په نامه ایمان راوړی چه نهٔ له وینے ـ نهٔ له جسمانی شوق نه او نهٔ دَ انسان په ارادے مګر له خدای نه پیدا شو ۰ اے محبوبانو اوس مـ دَ خدائ فرزندان یو خو لا تر اوُسَ بنکاره شوی نهٔ

دی چه څه به شو ـ مګر په دے پوهیږو چه که هغه را بنکاره شی نو د هغهٔ په شان به شو ځکه چه لکه چه هغه دے هم دغه شان به ـ لئ وینو○ ځکه چه څومره خلق چه د خدائ د رُوح په هدایت چلیږی هغوی د خدائ زامن دي ○

رومیانو ۵/۱۰ ، افسیانو ۲/۱۲ کلتیانو ۳/۲۶ یوحنا ۳/۱۶ و ۱/۱۲ و ۱۳ ، ۱ یوحنا ۳/۲ رومیانو ۸/۱۴

دَ عیسیٰ مسیح شاګردان دَ کتاب مقدّس نه څه زده کوی؟

چلن او خدائ راضی کول ؛ ولے چه دَ خدائ فضل بنکاره شوے دے چه ټول انسان له خلاصون ورکوی ○ او مونږ له تعلیم را کوی چه له بے دینئ او له دُنیاوی شوقونونه انکار وکړو او سم صادق او دیندار ژوندون په دی او سنئ زمانه کښ تیر کړو ○ دَ دَے دَ پاره چه دَ مالک لایق چلن وکړئ چه په هر څه رضامندی وشی او په هر ښه کار کښ میوه دار او دَ خدائ په علم کښ لوئیدونکی شئ ○

اتهسلنیکیانو ۴/۱ ، ططس ۳/۱۱ و ۱۳ ، کلسیانو ۱/۱۰

دَ مسیح شاګردان دَ کامل نمونے دَ پاره چرته ګوري؟

او دَ ایمان سردار او کاملونکی ته وګورو یعنی عیسیٰ مسیح

نه ٭ ولے چه مسیح ستاسو دَ خاطرَ مصیبت په ځان تیر کړ او تا سو ته ئی یوه نقشه پریښنودَ له چه دَ هغه چا چه قدم لاړشئ ○ چا چه هیڅ قسم گناه نهٔ وه کړے او نهٔ دَ هغهٔ په خوله کښ څه ټگی وه ○ او چه هغهٔ ته بدرد وویلے شو نو هغهٔ بیا بدرد ونهٔ ویل او نهٔ ئے په مصیبت زغملو په چا دباو وکړلو – مگر هرڅه ئے هغه چا ته په حواله کړل چه په انصاف عدالت کوی ○

عبرانیانو ۱۲/۱۲ ، ۱ پطرس ۲/۲۱ و ۲۳

## دَ عیسیٰ مسیح شاگردان په څه شان پیژندلی کیږی؟

تا سوله نوے حکم در کوم چه یو بل سره مینه لرئ لکه ما تاسو سره مینه کړے ده دغسے تاسو هم یو بل سره مینه کوئ په دے به ټول خلق پوه شی چه تاسو زما مریدان یئ که یو بل سره مینه لرئ ○ یوحنا ۱۳/۳۴ و ۳۵

## دَ عیسیٰ مسیح شاگردانو ته دَ خپلو دښمنانو سره څنگه سلوک کول پکاردی؟

ته مه وایه چه زه به دَ بدیٔ بدله واخلم ته خداوند ته انتظار کوه هغه به دِ خلاص کړی ٭ دخپلو د ښمنانو

سره مینه کوئ او چه څوک تا سو سره کینه لری
څخوی سره ښنه کوئ ؛ دَ څخوی دَ پاره برکت
غوا ړئ چه په تاسو لعنت کوی او دَ څخو دَ پاره
دعا غوا ړئ چه په تاسو تهمت لګوی ؛
دهرقسم تریخ والے قهر غضب چیغے او پیغور
سره دَ هر قسم خرابئ دِله تاسو نه لری شی لیکن
یوبل سره په نرم زړهٔ مهربانی کوئ او لکه چه
خدائ په مسیح کښ تاسو بخښلی شئ تا سو هم یوبل
معاف کړئ ○ امثال ۲۴/۲۹ ، نوقا ۲۷،۲۸/۶ ، افسیانو ۳۱،۳۲/۴

## څه دَ مسیح شاګردانو ته خپله بدله اخستل روادی؟

په تاسو کښ دَ چادو مرهٔ همت دے چه کوم
وخت لے دبل چا په خلاف څه معامله وی په بے
انصافو دَ څخهٔ فیصله کوی او نه په پاکانو ؛ اے
عزیزانو خپل بدل مهٔ اخلئ مګر غضب ته ګنجایش
پریږدئ ځکه چه لیکلی دی چه رب وائی چه بدل
اخستل څما کار دے بدل به زهٔ اخلم ○ مګر که
ستا دښمن وږے وی نو ډوډئ وله ورکړه ـ او

که تېرې وی نو او بهٔ ـ ولې چه که داسې وکړې
نو دَ هغهٔ په سر دَ اورسکروټی انبار کړې ـ
خرابی دِ په تاسو غالبه نهٔ شی مګر دَ ښېګړ په وَجهٔ
په خرابئ غالب شئ ٥ ولې چه دا دَ فضل خبره دَه
که څوک د خدائ دَ وړاندِ دَ ضمیر په وجهٔ دَ بې
انصافئ په مصیبت غمونه وزغمی ٥ ځکه چه که په
ګناه کولو سوکو نه خورئ او صبر کوئ نو په دې څه
رنګ صفت کیږی ؟ مګر که په نېه کولو مصیبت مومئ
او صبر کوئ نو دا دَ خدائ له طرفَ دَ فضل خبره
دَه ٥ ولې په دې سوچ وکړئ چه هغه دَ ګناهګارانو
دَ هغوی په خپل خلاف په څومره مخالفت
صبر وکړ دَ دې دَ پاره چه ماندهٔ نه شئ او په خپلو
ځانونو کښې ستړی نه شئ ٥

۱ کرنتهیانو ۶/۷ ، رومیانو ۱۲/۱۹-۲۱ ۱ پطرس ۲/۱۹ و ۲۰ عبرانیانو ۱۲/۳

# څه دَ مسیح شاګردانو لره دَ دُنیا چال چلن ښائسته روا دی ؟

هغه چه خپل ځان ئې څمونږ دَ ګناهونو دَ

خاطرَ ورکړ چه څموږ دَخدائ پلار دَ مرضئ په مطابق موږ له دے او سنئ بدے زمانے نه بچ کړی ○ دَ دی زمانے صورت مه آخلئ بلکه دَ عقل دَ نوے کولو په وسیلے پخپله بدل شئ دَ دے دَ پاره چه ازمیښت وکړئ چه د خدائ ښه مقبوله او کامله رضا څه ده ÷ نه دنیا سره مینه لرئ او نه هغه څیزونو سره چه په دنیا کښ دي-که څوک دنیا سره مینه لری نو دَ پلار مینه په هغهٔ کښ نشته ○ گلتیانو $\frac{۱}{۴}$ ، رومیانو $\frac{۱۲}{۲}$ ایوحنا $\frac{۲}{۱۵}$

## په قرض اخستلو کښ دَمسیح دَ شاگردانو څه فرض دے؟

که یوسړی له خپل گاونډی نه څه وغواړی او هغه ژوبل شی یا مړشی که مالک ورسره نه وو نو هغه دِ دَ هغه بدله ورکوی ○ بے له مینے نه په خپل مینځ کښ دَ چیچا په هیڅ څیز کښ قرضدارمه شئ÷ احکام تا ته معلوم دي ـــ غلامه کوه

خروج $\frac{۲۳}{۱۴}$ ،رومیانو $\frac{۱۳}{۸}$ ، مرقس $\frac{۱۰}{۱۹}$

## دَمسیح دَشاګردانو دَپاره په څه شان خبرے کول پکار دی؟

نو دروغ پریږدئ او هرلیو دِ خپل ګاوندی ته رښتیا وائی؟ ستاسو له خولے نه دِ خرابے خبرے ونهٔ وزی مګر دَ حاجت په حساب دَ ترقئ دَ پاره چه څه بنه وي؛ دَ مسیح کلام دِ په تاسو کښ په پریوانئ سره اوسی ۰ دَ غسے تاسو په خپل ټول چلن کښ پاک شئ ○ افسیانو $\frac{۴}{۲۵ و ۲۹}$ کلسیانو $\frac{۳}{۱۶}$ اپطرس $\frac{۱}{۱۵}$

## په کتاب مقدس کښ دَ مسیح دَشاګردانو دَ لباس په باب کښ څه لیکلی دی؟

خو دَ معنوی سنګار کول دِ صورتی نهٔ وی یعنی ویښته کونځل کول دَ سرو زرو کالی اچول او جامے اغوستل ○ مګر دَ زړه پټ انسانیت دِ وی یعنی دَ حلیم او دَ غلی روح په غیرفانی ښائیست کښ چه دَ خدائ په مخکښ ډیر قیمتی دے ○ او دَ غسے دِ ښځے هم په حیا دارو ورډ وقمیصونو په شرم او په سم طورخپل ځانونه آرایسته کړی - نهٔ په کونځونهٔ د سروزرو په کالونهٔ په مرغلرو اونهٔ په قیمتی لباس○

اپطرس ۳/۲و۴ ، ۱ تمیتهس ۲/۹

# دَ مسیح دَ شاگردانو لره نورو خلقو سره څنګه سلوک کول پکار دی؟

دَ بهر خلقو په مخکښ مناسب چلن وکړئ ، ولے چه څه چه نه یوائے دَ مالک په مخکښ بنه وی مګر هم دَ خلقو په مخکښ دَ هغه فکر کوو ○ غل دِ بیا غلا و نهٔ کړی مګر په خپلو لاسونو دِ دَ بنه کار دَ پاره خواری وکړی چه دَ حاجت مند دَ مدد دَ پاره څه نه څه ورځه وی او چه څوک مُو ربړوی دَ هغو دَ پاره برکت غواړئ برکت غواړئ او لعنت پرِ مهٔ وایئ ○ او کمزوری سمبال کړو او هغه خبرے یادے کړو چه مالک عیسیٰ پخپله وویلے چه ورکول له آخستلو نه بختور دی ○ دَ بدیٔ په بدل چیچا سره بد مه کوئ ، ولے چه ټول شریعت په یوه خبره پوره کیږی یعنی په دے چه خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په شان مینه لره ÷ ۱ تهسلینکیانو ۴/۱۱و۱۲ ، کرنتهیانو ۵/۲۱ ، افسیانو ۴/۲۸

رومیانو ۱۲/۱۴ ، اعمال ۲۰/۳۵ ، رومیانو ۱۲/۱۷ ، ګلیتانو ۵/۱۴

## په کتابِ مقدّس کښې دَمسیح دَ شاگردانو دَ خاندانی فرایض او چال چلن په باب کښې څه لیکلی دی؟

اے ورو-په مالک کښې دَ خپل موریلار تابعدار اوسئ ځکه چه دے ته صداقت وای ○ او تا سو اے پلرونو-خپل اولاد مه قهروئ مگر دَ مالک په ترتیب او په پند ور کولوئے پالئ ○

اے سړو خپلو ښځو سره مینه لرئ لکه چه مسیح هم کلسیا سره مینه ولر له اَو خپل ځان لے دَ هغے دَ پاره په حواله کړو ○ اے سړو دغسے هم ښځو سره د علم په مطابق داسے کور والے ساتئ لکه کمزوری لوښی سره او دا سے عزّت ئے کوئ لکه د هغو چه دَ ژوندون په فضل کښې تاسو سره په مراث کښې شریکے دی دَ دے دَ پاره چه ستاسو دَ دعا رکاوټ نهٔ وی ○ لکه چه کلیسا دَ مسیح تابعداره ده د غسے هم ښځے دِ په هره جره کښې دَ خپل خپل خاوند تابعدارے اوسی ○ مگر له تا سو نه دِ هم هریو سړے خپلے

ښځې سره دَ خپل څان په شان مینه ولری او ښځې دِ هم دَ خپل خاوند په ویره کښ اوسی ○

افسیانو ٦ ١و٤ و ٩ ٢٥ ، ١پطرس ٣ ٢ ، افسیانو ٥ ٢٢و٢٣

## میحی نوکر ته دَ خپل مالک سره او میحی مالک ته دَ خپل نوکر سره څنګه سلوک کول پکار دی؟

اے نوکرانو هغوی چه په جسمانی طور ستاسو مالکان دی دَ هغوی تابعداري په ویرے په رېږدلو او په صفا زړه داسے کوئ لکه دَ میسح ○ او په نمک حلالئ سره داسے غلامی کوئ لکه دَ مالک دَ پاره او نه دَ انسان د پاره○ ولے چه تاسو ته معلومه ده چه له مالک نه به دَ میراث بدل مومئ ـ تاسو دَ مالک میسح غلامان یئ ○ نوکران دِ دَ خپلو مالکانو تابعدار اوسی او په هر څه کښ دِ مقبول وی۔ مخالفے خبرے دِ و نه کړی ○ او نه څه پټول مګر پوره نمک حلالی دِ وښیئ دَ دے دَ پاره چه په هرڅه کښ څوښ دَ خلاصونکی خدائ یقلم آراسته کړی ○ اے مالکانو هغوی سره هم هغه شان کوئ او زورنه پرېږدئ او په دے پوره شئ چه هم ستاسو هم دَ هغو مالک په آسمان کښ دے

او هغه دَ هیچا طرفداری نه کوی ○

افسیانو ٦/٥-٧ ، کلسیانو ٣/٢٢ ، ،

طِطس ٣/٩-١٠ ، افسیانو ٦/٩

## دخدائ په کلام کښ دَ بادشاهانو او دَ حاکمانو په بابت کښ چه لیکلی دی؟

ځکه له هر څه نه وړمبے دا نصیحت دا کوم چه د ټولو خلقو دَ پاره منتونه دعا شفاعتِ سوالونه او شکرگزاری کول پکاردی ○ هم دَ بادشاهانو اودَ غټو معتبرانو دَپاره چه مونږ سلامت او دَ قلارے ژوندون په پوره دینداریٔ او ادب سره تیر کړو ○ دَمالک دَخاطرَ دَ هر یو انسانی بندوبست تابعدار اوسیٔ-که دَ بادشاه تابعدارنو داسے لکه چه دَ لوی اختیار دَ خاوند○ او که دَ حاکمانونو داسے لکه چه دَ هغه کسانو چه بادشاه لیږلی دی ؛ د هرچا عزت کویٔ دَ ورورولی مینه لریٔ له خدائ نه ویره کویٔ دَ بادشاه عزّت کویٔ○ هر یو دِ دَ غټ اختیار دَخاوندانو تابعدار اوُسی ولے چه یو اختیار هم نشته چه دَ خدائ له طرفَ نهٔ دے او کوم چه موجود دی هغوی دَ خدائ له لوری مقرّر شوی دی ○ د هرچا چه څه